سراج الحق ببرک زی ځدراڼ ۲۰۱۵/۰۹/۰۶

# د پښتونولۍ حقوقي نورمونو او ارزښتونو ایډیالوژیک بنسټ

## اتمه برخه

## د افغانستان د ملي دولتونو دولتي فلسفي کانسپټ کې د افغان ملي هویت، د جرګو، مرکو او اساسي قوانینو ارزښت

د افغانستان په دولتي فلسفه کې او د افغانانو په حقوقي، سیاسي، دولتي سیستم کې اسلامیت او افغانیت د هرافغان وګړي ملي هویت پېژندل شوي دی. له همدې امله افغانستان او افغان ملت په نړۍ کې د افغانیت او اسلامیت په نامه پېژندل کیږي. د افغان نوم د افغان دولتونو په دولتي فلسفه او د افغانستان د اساسي قانون پر بنسټ د افغان ملت پر هر وګړي یا تبعه که هغه افغان پښتون، افغان تاجک، افغان هزاره، افغان اوزبک، افغان ترکمن، افغان بلوچ، افغان عرب، افغان ګوجر، افغان سک، افغان هندو، افغان قزلباس، افغان قرغز، افغان ایماق، افغان پشه یان او نورو افغانانو باندې اطلاق کیږي. افغانانو کې په خاصه توګه په پښتنو کې د یو واحد افغان ولس یا واحد افغان ملت جوړونې، شعوري فکر، احساس او هود ډیر ژور او جدي دی. ځکه د نړۍ تاریخ او نړیوال سیاست پښتانه د افغانستان د دولتي ولس په خیر پېژندلې دي. په تاریخي لحاظ افغانستان کې پښتانه دولت جوړونکې او دولت سمبالونکي ولس دی. دا د دوی تاریخي ایماني، وجداني، مسوولیت دی، چې د ملي دولتونو تاریخ او فلسفي څخه، د دولت فورم، دولتي ایډیالوجۍ، د ملي یووالي، د ملي هویت او د افغان ملي دولت جوړولو مشروعیت څخه په افغاني بڼه کې ساتنه او دفاع وکړي او دغه دورند بار دوی ته ور په غاړه ایښودل شوي دی.

هیڅ څوک نشي کولې اوحق نلري افغانان پښتانه د خپلو ملي لرغونو ارزښتونو او ملي هویت څخه محروم کړي او یا یې بې عزته، بې هویته او پردي کړي. د ملي هویت لرلو حق په نړۍ کې د هر انسان له بنسټیزه حقوقو څخه شمیرل کیږي. لر او بر افغانان پر خپل عزیز اسلام مین خلک دي او پر خپل ملي هویت افغانیت باندې ویاړي.

افغانان د خپل ملي هویت پېژندنې او د خپلو ارزښتمندو ارزښتونو او ملي نوامیسو څخه دفاع د سر په بیه کړي اوکوي. اسلام او اسلامیت، افغان او افغانیت د افغان ستر ملت د ملي ارزښتونو او ملي هویت ایډیالوجیکی بنسټ ایښودلي دی. یوه خپلواکه افغانه او یا یو خپلواک افغان د افغان ملي دولتونو د دولتي فلسفه پربنسټ د افغانستان دتابعیت لرلو او یو ملي افغاني اسلامي هویت درلودلو سره ځان یو ریښتني مسلمان افغان شخصیت احساسولي شي. د افغانانو د تابعیت په پېژند پاڼو کې د افغانانو د ملي مشخصاتو دوه کلیمې اسلام او افغان باید اړین ولیکل شي. د افغانستان په دوه سري حکومت کې د افغانانو نه سر او نه مال او نه د خلکو بنسټیز حقوقو ساتنه کیږي .په همداسي یو بد حالت کې او د پښتنو د بې اتفاقي له امله د افغانانو څخه قصداً د ملي هویت مشخصات اسلامیت او افغانیت اخیستل کیږي. افغان حکومت که د یوې خاصیې ناپوهه، کوچني متعصبي مذوري، پردیپالې ډلې او مافیایي کړۍ لپاره په خپله د افغانستان اساسي قانون د پښو لاندې کوي او په یو بل نه ښنوونکې ملي خیانت باندې لاسپوري کوي، دا غلام او ماتیدونکي حکومت به له همدې عمل په تر سره کولو سره خپل ورستي دوستان له لاسه ورکړي، د داسي یو اسلام ضد او افغان ضد مذور حکومت نسکورول د هر افغان فرض ګرځي. انشاءالله دغه بې هویت بدمرغه حکومت به ډیر ژر خپل نسکور یدو ته په خپله لاره هواره کړي.

د افغانستان ملي تاریخ، د افغانستان د ملي دولتونو تاریخ او د افغانستان د اساسي قوانینو تاریخ د لویې جرګې په تاریخ کانسپټ او یا د افغانیت په ستره لمن کې لیکلي شوي دي. د افغانستان اساسي قوانینو د افغانانو یو ملي سند په


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

توګه د افغانستان د اسلامي دولتونو فلسفه او د افغان اسلامي نظامونو مشروعیت او چوکاټ تثبیت کړي دی. د دولت په دولتي فلسفه کې د دولت جوړښت، د دولت فورم، دولت وظایف او د دولت موخې تعریفیږي او همداسي د دولت موسسي، د دولت اخلاقي، ټولنیزه، حقوقي شرایط او د دولت پولې هم پکې تثبتیږي. د دولت یو عمومي تعریف په دې ډول دی: دولت یو سیاسي اوحقوقي اورګانیزیشنن دی، چې په یوه ټاکل شوي سیمه کې په خپلو کورنیو او بهرنیو چارو سیاست کې یو خپلواک ځواک رامنځته کړي او په خپل ځمکنۍ بشپړتیا کې د خپلو وګړو د ګډ ژوندانه لپاره یو ځانګړي حقوقي نظام پلي کړي. د همدې دولتي تیوری پربنسټ د افغانستا ن محاصرو ملي مډرنو ولسي دولتونو د پښتونولي ځیني عنصرونه یا مصطلحات قانوناً د لویې جرګې له پریکړو څخه ورسته په خپل اداري دولتي جوړښت او چوکاټ کې منلي دي. افغان ملي دولتونو په اساسي قانون کې خپل دریګوني ځواکونو نومونه د مشرانو جرګه، ولسي جرګه او ستره محکمه په نامه نومولي دي.

د ۱۳۰۱ کال څخه را پدې خوا د افغانستان لومړنی اساسي قانون او نور ټول اساسي قوانین لویو جرګو ته وړاندې شوي او د لویې جرګې له لوري تصویب او یا تعدیل شو ي هم دي. د افغانستان په اساسي قوانینو کې لویه جرګه تسجیل، تشریح شوي او صلاحیتونه یې مالوم دي. له یو خوا په افغانستان کې د لویو جرګو قانوني او تاریخي بهیر اوځرنګوالی په اساسي قوانینو کې تنظیم شوي، له بلې خوا په افغانستان کې د دیموکراسی لسیزې پیل د لویې جرګې د شنی اشارې څخه ورسته پیل شوي دی. د دیموکراسي لسیزې د قانون ماتې او ناکامی لاملونه یوې بلې مفصلې او هر اړخیزې څېړنیز بحث ته اړتیا لري دلته ورته ځای نشته

کله چې د اساسي قانون مطابق لویه جرګه د پاچا یا ولسمشر له خوا راغوښتل شي، افغان حقوقپوهان پوهیږي، چې په همدې وخت کې لویه جرګه د افغانستان دریګوني ځواکونو واک د یوې محدوې مودې لپاره محدود وي. په بله وینا مشرانو جرګه او ولسي جرګه د خپل قانوني کار په دوره کې په ګډه د لویې جرګې ځای ناستې ارګانونو په څېر عملاً کار کوي. له همدې امله لویه جرګه د افغان په دولتي فلسفه کې د دولت د دریګوني ځواکونو او د نورو موسساتو څخه د پاسه یوه عالي موسسه پیژندل شوي ده. د مشرانو جرګه او ولسي جرګه د لویې جرګې نه بیلدونکې رسمي دایمي څانګې دي. له بل پلوه لویې جرګې په ولس کې د ولسي ولسمشرانو مشروعیت قانوناً ټینګوي.

ولسمشر له همدې امله کولې شي د مشرانو او ولسي جرګو یا د مقننه او اجراییه ځواکونو په شتون کې بیا هم دودیزه لویه جرګه راوغواړي.

په ۱۳۴۳ کال په اساسي قانون کې لویه جرګه د یو پریکړه کوونکي او قانون جوړوونکې بنسټ په توګه وپیژندل شوه او رسماً دغه رول په اساسي قانون کې لویې جرګې ته ورسپارلې شوي دی او د ۱۳۵۹ کال اساسي قانون لویه جرګه د پارلمان پرځای د یو ثابت بنسټ په توګه پیژندلې شوي ده.

د افغانستان حکومتونو تل خپل اساسي قوانین لویو جرګو ته وړاندې کړي دي. د افغانستان اساسي قوانینو لویه جرګه یې یو داسي عالي بنسټ او ارګان منلي دی، چې نه یوازې د اساسي قانون د بدلون په مهمو مواردو کې پریکړه کولاي شي، بلکې د هیواد په ګنو ملي مسایلو کې هم تصمیم نیولاي شي.

لویې جرګې د افغانانو د ملي ګټو او اسلامي ارزښتونو د ساتلو لپاره راغوښتل کیږي او افغان ملي دولتونه د لویې جرګې د فیصلو پربنسټ عمل کوي. کله چې بهرنیو یرغلګرو پوځونو پرافغانستان یرغل کړي دی، دا دودیزه جرګې یا د افغانیت او اسلامیت اصول دي، چې افغان غازیانو او مجاهدینو ته افغاني ننګ، غیرت، د ځان ازادۍ او د ملي نوامیسوڅخه ساتنه او دفاع ور په یادوي او د جرګو له لارې افغان غازیان د خپل پلارني هیواد دفاع لپاره راټولیږي. د افغان او انګریز په لومړي، دوهمه او دریمه جګړه کې د جرګو د پریکړو له لارې د غازیانو خپلواکې ډلې او لښکرې راووتلې. جرګې د افغانانو له اسلامي عقایدو او ملي ارزښتونوڅخه د بهزنیانو په وړاندې دفاع کوي.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

له همدې امله دوديزه جرګې د افغانانو د خپلواکۍ سمبول دی. د جرګې ګډونوال باید په ملي او هیوادني ګټو، اسلامي ارزښتونو او افغاني پښتني اصولو باندې موتقد، پوهه او مخلص خلک وي.
د افغانستان په اساسي قوانينوکي د لويې جرګې واکونه تعريف شوي دي. لويې جرګې ته د فوق العاده يا استراري حالاتو اعلانولو واک ورکړل شوي دی. لويه جرګه د اساسي قانون پربنسټ کولی شي، د جګړې يا سولې اعلان وکړي. د افغانستان په اساسي قوانينو کې لويې جرګې ته دا واک هم ورکړي شوي وه، چې د پاچا يا ټولواک ځای ناستي وټاکي. د افغانستان د جمهوري حکومتونو په دوران کې د ولسمشر ټاکنه او استعفا منل د لويې جرګې له واکونو او صلاحيتونو څخه دي. د افغانستان د جمهوريت تاريخ له پيله تراوسه لويو جرګو د اساسي قانون پر بنسټ درې ځلې افغان ولسمشران ټاکلي دي.
کله چې پر ولسمشر باندې د ملي خيانت.او يا د بشري جرايمو ضد جرمونو تور پورې شي او دا جرم د ولسي جرګې د دوه پر دريو غړو له خوا تاييد شي. د افغانستا ن اساسي قانون لويې جرګې ته د ولسمشر د محاکمه کولو واک او اختيار ورکړي دی.
لويه جرګه قانوناً د يوې مشخصې ملي موضوع لپاره د افغانانو دوديز قبايلي پارلمنټ رول لوبوي. په يويشتمه پيړۍ کې لويې جرګې د افغان ملي دولتونو اساسي قوانين د خپل دولتي فلسفې په چوکاټ کې په افغاني خپلواکه بڼه تصويبوي.
لويو جرګوتر اوسه هيڅ يو داسي اساسي قانون نه دی تصويب کړي، چې د افغانانو د افغانيت او اسلاميت او ملي ارزښتونو خلاف ليکل شوي وي.

## لويه جرګه د سوليزو ملي خبرواترو لپاره يو سياسي پلټفورم دی

د پښتونولي جرګې او مرکې افغانان يا پښتانه قومونه نه يواځې د هيواد ساتنې، خپلواکې او ملي يووالي ته رابولي، بلکې پښتانه جرګې د خپلمنځي ستونزو، شخړو او ناخوالو د له منځه وړلو لپاره او په ټولنه کې ټولنيز عدالت او سوله ييز ژوند راوستلو لپاره رابولي.
افغانستان کې د لويو او ملي دوديزو جرګو اصلي موخه په هيواد کې د رامنځته شوی سياسي او يا ټولنيز کړکيچ ته حل يا د هيواد مهمي ملي مسئلې څېړلو څخه ورسته د هغې په اړه د حل يوه معقوله لارو موندلو لپاره يوه بڼه ټولمنلي حقوقي مرجع ګرځيدلي ده. په جرګه کې خلک له يو بل سره د رامنځته شوي مسئلي په اړه خپل ولسي سياسي اندونه او پريکړې شريکوي.
په افغانستان کې لويه جرګه د يو عالي ملي ارګان په څير خپل تاريخي مشروعيت لري. د افغانانو لپاره لويه جرګه په ملي او نړيواله کړکيچونو کې د کړکيچ د هواري له پاره يو مناسب افغاني ميکانيزم دی.
افغاني ټولنه په خپله وسيعي مانا کې يوه قبايلي ټولنه ده. لويه جرګه يوه ولسي دوله قبايلي سياسي موسسه ده، چې دوه اړخيزه مشروعيت لري. د لويو جرګو اوږد تاريخ ته په کتو سره او د لويو جرګو د جوړيدو پرنسيب پر بنسټ لويې جرګې په ملي کچه يو ملي عالي حقوقي ارګان وده کړي، ځکه لويه جرګه د لرغونو زمانو څخه د استازي يا نماينده ولسواکي عنصرونه په خپل جوړښت کې لري.
لويه جرګه د افغانستان په دولتي سيسټم کې د ټولو دولتي ارګانو د پاسه يو عالي دولتي ارګان دی.
لويې جرګې د افغانستان د خلکو د ارادې د څرګندولو تر ټولو اوچته ملي مرجع ده. د افغانستان ډيرې مهمې ملي ستونزې د لويوجرګو له خوا حل شوي دي. د افغانستان اساس قوانين د لويې جرګې زيږنده دي. د افغانستان اساسي قوانين د لويو جرګو له خوا پاس شوي دي. د افغانانو ولسي مشران او ولسي مشرتوب لويو جرګو ټاکلی دي. په لويه جرګه کې د ټول هيواد ريښتني، منلي ملي استازې برخه اخلي. لويه جرګه د افغانانو يو ملي منلي شوي ميراثي لرغوني دود دی.
لويې جرګې په لويو سياسي او ټولنيزو ملي مهمو مسايلوکې د پريکړو يوه با اعتباره عالي ملي مرجع ده.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په خير و لولئ

افغانستان په خپل محاصر تاریخ کې د ډیرو لویو جرګو کوربه وو. لویې جرګې د هیواد مشرانو ټاکلو کې، د اساسي قانون په تصویب کې، د بهرنی نړۍ سره اړیکي او د نورو ملي سیاسي مسایلو په تړو رابلل کیږي.

## د پښتنو او پښتونولۍ قومي جرګه

د یوې پیړۍ را هیسې د پښتنو ډیري قومي جرګې د لرو او بر پښتنو او د ډیورنډ د کرښې د دواړه خواوو د قبایلو له خوا په ګډه جوړي شوي دي، پښتانه قبایلو او د پښتنو قومي جرګو هیڅ وخت د ډیورنډ استعماري کرښي خیال نه دی ساتلي. پښتانه، د پښتنو قومي جرګي او پښتونولي د ډیورنډ کرښه په رسمیت نه ده پیژني.
د پښتنو قومي جرګه د قوم او د سیمي په کچه قومي لانجې، شخړو او د کړکیچونو د حل و فصل لپاره رابلل کیږي.
د قومي جرګې بهیر او موخې د مرکې له بهیر سره یو شانته دي. قومي جرګه د یوې ځانګړې سیمي د خلکود ټولنیز کړکیچونو او ستونزو لپاره جوړیږي او پریکړې کوي.
د افغانانو قومي جرګه هغه مهال رابلل کیږي، کله چې د دوو یا څو قومونو ترمنځ شخړه یا لانجه رامنځته شي او یا دا لانجه په وسله واله شخړه بدلیږي او یا بدله شوي وي. اکثراً د شخړي د حل لپاره د نورو قومونو څخه یوه بې پري قومي جرګه سیمي ته استول کیږي. د پښتنو دغه قومي جرګه هڅه کوي، تر څو د دواړو اړخونو د جنګ جګړو او د نورو شخړو او بدیو مخه ونیسي.
په ۱۴۱۴ کال کې د پښتنو په تاریخ کې لومړنی مهمه ثبت شوي قومي جرګه په کندهار کې لویه قومي جرګه د یوسفزیو قبیلې په تړوو جوړه شوي ده. دې قومي جرګې پریکړه وکړه، چې د یوسفزیو قبیله باید له کندهاره پیښور ته خپله کډه بار کړي، د یوسفزیو قبیله د لویې قومي جرګې د پریکړې پربنسټ له کندهاره د پیښور په لور د تل لپاره وکوچیده. د قومي جرګې واک او د قومي جرګې د پریکړو ځواک په دې کچه هم تر سره شوي دی.
په ۱۹۴۲ کال کې په لوی پکتیا کې د منګلو د قبیلې د ارامولو لپاره یوه قومي جرګه جوړه شوه.همداسي د پښتنو د قومي جرګو شمیر او لیسټ ډیر اوږد دی، ځکه پښتانه په خپلو کې د ځمکو،اوبو، دښتو، غرنو او ځنګلونو په سر له یوبل سره ډیري وسله والي نښتي کړي دي. د جګړو د مخنیوي او د شخړوختمولو لپاره د نورو پښتنو قومونو څخه قومي مشران، د دیني علما او د ولس له استازیو څخه قومي جرګې جوړیږي شوي دي. د پښتنو د لانجو په حل کې د قومي جرګو منځګړتوب ډیری مؤثر تمام شوي دی.

## د پښتونولۍ د مرکو او جرګو له لیارې د کلیوالي ستونزو او شخړو هوارۍ

پښتنه ټولنه کې د هرې حقوقي شخړي یا د خپلمنځی لانجمنو ستونزې په پای کې یوه جرګه یا مرکه رابلل کیږي دغه حقوقي مرجعه په سیمه کې د یو شمیر نارسمي اما پیژندل شویوو، مصلحینو منلي شویو تجربه لرونکو قومي مشرانو او مخورو شخصیتونو څخه رامنځته کیږي، دغه حقوقي مرجعه یا جرګه د سیمي عامو خلکو ته هم ورپیژندل کیږي. د مرکې دنده ده، چې د دواړو دښمنو سیالو ډلو او یا د مدعیانو ترمنځ منځګړ توب او جوړجاړي وکړي. مرکچیان په لومړي قدم کې د ګناه پوښتنه یا ګناه د چا ده دا خبره نه کوي. پښتنه ټولنه کې د جرګې پریکړې د پښتني ټولني د نرخو نو یا د پښتونولۍ د دودیزه قانون پر بنسټ تر سره کیږي. د پښتنو منل شوي نرخ د تر سره شویو جرګو د پریکړې پر بنسټ ټاکل او رامنځ ته کیږي.
د پښتنو د پښتونولي دودیزه جرګې دوه ډولونه لري:
د مرکو او جرګو دغه دودیزه سیمیزه فورم د پښتنو د ټیپیکل دعوو او شخړو په حلو فصلو کې یوه تجربه شوي او ازمویلي شوي بریالي وسیله ده. د مرکو او جرګو له لارې د قومونو او قبیلو ترمنځ ډیرې لویې او وړې مسئلې او معاملې حلو فصل شوي دي.
کله چې په پښتنه ټولنه کې ځینی کړه وړه د تربګنې او یا د پښتنو د تربګنیزه ژوند سر ه په تضاد کې واقع شي او دغې لانجې ته په ستر کورنی چاپیر یال کې یا په کلیوالي چاپریال کې ورته د حل یوه مناسبه منل شوي لار او یا هم


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

مجازات ونه موندل شي، د پښتنو سيمه ييزه قومي مرکه راغوښتل کيږي. د مرکې مرکچيان د سيمې په منلو شويو نرخونو، رواجونو باندي خپله پريکړه او فيصله کوي. مرکچيان يو قبايلي نرخ په رامنځته شوي پيښه او يا په را منځته حقوقي قضيه کې پلې کوي. په پښتنه ټولنه کې يو قومي نرخ يا حقوقي نورم د څو لسيزو په ترڅ کې يو چليدونکې جزايي او مدني دوديزه قانون ته وده کوي. او دا نوی نرخ بايد په څو نورو دعوو کې د سيمې د ولسي خلکو له لورې منلي شوي وي. د ځيرونو او تجربو پر بنسټ قومي نرخ د پښتنو په ځينو قبيلو او قومونو کې له يوبل څخه يو څه توپير لري. حقوقي نورم يا قومي نرخ کله چې يوه مرکه يوه پريکړه وکړي او روانه شخړه پرې هواره شي او دا پريکړه د خلکو د منلو وړ وګرځي او دا پريکړه څو وارې په نورو مرکو او شخړو کې هم د تطبيق وړ وګرځي او د خلکو ستونزې پرې حل شي. د سيمې خلک دا پريکړه د سيمې په کچه د يو قومي نرخ په څير پيژني. که څوک له منل شوي نرخ څخه سرغړونه کوي، دا په خپله يو بل جرم پيژندل کيږي، د سيمې خلک هغې سړی ته په ښه سترګه نه ګور ي، چې د جرګو له پريکړو څخه سر غړونه وکړي او دی په خلکو کې له نرخ وتلي سړی پيژندل کيږي. د مرکه خلات يا د مرکچيانو پيسې، دا هغه پيسې دي، چې د دعوې د دواړو خواووي له خوا مرکچيانو ته ورکول کيږي، ځيني کسان په دې اند دي، چې خلات اخيستل حرام دی. په هر صورت، د خلات په ورکولو سره د مرکې د پريکړې ضمانت د مرکچيانو په غاړه کيږي. کله چې د دعوې يو لوري د پريکړې څخه ورسته بيا دعوه له سره پيل وکړي او د خپلي ستونزې هواري د خپل ځان په ګټه غواړي او يا دی وايې چې پريکړ ه په دې ډول نه وه فيصله شوې او دی يې نه مني. په داسې يو حالت کې کومو مرکچيان چې خلات اخيستی وه را غوښتل کيږي او خپله کړې پريکړې يو ځلي بيا په ډاګه کوي، چې دوی څه ډول پريکړه کړې وه او کوم لوری په حقه وه. که يو مدعي بيا هم پريکړه نه مني د مرکچيانو له خوا پرې د کبرجن سړی غږ کيږي او يا په ټولنه کې يو سرغړوونکي او نرخ ماتوونکي سړی پيژندل کيږي.
پښتو متل دی، چې له ښاره ووځه، خو له نرخه مه وځه .
مرکچيان اکثره د قوم مخور پوه مشران،سپين ګيري، تجربه لرونکې مخلص خلک وي .په مرکو کې سپين پټکيان اکثره د ديني علماوو رول لوبوي. په مرکه کې مشران او سپين ګيري د خپلې کوچني ټولنې غړيتوب کوي. په مرکه کې ناست سپين پټکيان يا ديني علمآ، دوی د مرکې بهير د اسلامي پوهې يا شريعت په رڼا کې ارزوي، د کړکيچ په حل کې بايد اسلامي احکامو او حدود مراعت شي. په مرکه کې ټول کلي يا د ټولنې هر غړی کيناستې او برخه اخيستلې شي. په مرکه کې ناست کليوال مرکچيانو دې ته اړکوي او دا په ور ياد وي، چې د مرکې نرخ او پريکړه بايد د کلي يا د کليوالي ټولنې په ګټې او خير ښيګڼې باندي تمامه شي او يا دوی د مرکچبانو پام د ټولنې د ساتنې دې مهم ټکی ته ور اړه وي.
يوه سيمه ييزه قومي مرکه د قرانکريم د مبارکو اياتونو په تلاوت سره پيل کيږي او ټولو ته د خير په دوعا باندې پای ته رسيږي. هره مرکه په يوه پريکړه باندې پای رسيږي او متهم ته په کې سزا اورول کيږي، په حقوقي نورمونو او عدالت ولاړه پريکړه بيا ورور ورور په خپله يو قومي نرخ يا يو حقوقي نورم ته بدليدې شي.
په جرګه کې د قضيې په اړه تر هغه خبرې اترې او مشورې کيږي، تر څو دواړو خواوو ته يو منلي حل په کې را ووځې، اکثراً د جرګې پريکړې نقدې جريمې او يا په بدل کې پيسې پريکول وی .په ځينو مواردو کې کيدای شي، چې د جرګې له خوا د متهم د کور سوځولو پريکره هم وشي، پښتانه د پريکړې د پلې کولو په بهير کې د الله (ج) څخه ډيره سخته ويره لري، د افغاني ننګ، غيرت، انساني کرامت او د قومي يووالی ارزښتونه مهم ټکي دي، چې د مرکې په بهير او پريکړه کې بايد مراعت شي .کله چې متهم د مرکې پريکړه ونه منې، دی د ټول قوم يا ټبر څخه ايستل کيږي او څوک ورته په درنه سترګه نه ګوري.
متهم او يا مدعيانو ته د يوې بلې مرکې راغوښتلو چانس هم شته، کله چې شک رامنځته شي، چې نرخ غلط استعمال شوي دی يا نرخ کوږ تړل شوي دی او په پريکړي کې عدالت نه دی سم پلي شوي، بله مرکه د نويو مرکچيانو څخه راغوښتل کيږي، د نوي مرکې پريکړه بايد د کلي يو خيل خلک وکړي. کله چې ثابته شي، چې نرخ کوږ او پريکړه



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالې د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليږلو مخکې په خير و لولئ

د حقوقي پلوه نا سمه تر سره شوي ده، کومو مرکچيان چې په دغه مرکه کې ګډون درلود. دوی نور د ژوند تر پایه نشي کولای نرخ وتړي او د مرکو او جرګو په پريکړو کې برخه واخلي .کله چې دويمي مرکي ناستي دا وپتيله چې پريکړه د نرخ سره سمه شويده، بيا نو پريکره پلي کيږي، بله مرکي نا شوني ده، چې راوغوښتل شي. د دويمي مرکې ښوالي په دې کې دی، چې نوی سزا يا نقدي جرمونه په کې نه ټاکل کيږي.
هره مرکه يا جرګه ځانته واک او صلايت غواړي، مرکچيان د قضيې په اړه له مدعيانو څخه د پريکړې واک يا اختيار اخلي. واک په دوه دوله دی، يو خلاص واک او دويم بند واک يا توی وړی واک هم ورته ويل کيږي. لومړی خلاص واک، په خلاص واک کې د دعوې د دواړو غاړو تمې او غوښتنې په پام کې نيولو سره پريکړه کيږي.
مرکچيان د جرګې پرکړې دواړو خواوو ته اوروي. د دعواګيرو غاړو پوري اړه لري، چې د مرکې پريکړه مني او کنه. په بله وينا د جرګې پريکړې حتمي نه دې چې ومنل شي اوهم د پريکړې مطابق پلي شي. دويم توی وړی واک يا بند واک، دغه ډول واک ورکولو سره د دعوې دواړه خواوې د قضيې يا شخړې په اړه مرکچيانو ته خپل پوره واک او اختيار ورکوي. کله چې د دعوې دواړه غاړې مرکچيانو ته توی وړی واک ورکړي، دوی مجبور دي چې د مرکې پريکړې ومني او مرکچيان د بند واک مرکې پريکړې او فيصلې خامخا پلي کيږي، کيدای شي په ځينو مواردو کې د جرګې پريکړې جبراً د اربکيانو په زور او مټ هم عملي شي. د بند واک اعتباري کولو يو شرط يا ځانګړ تيا دا ده، چې برمته يا ګرو يا مچلګه اېښودل کيږي، برمته د دعوې د دواړو خواوو څخه اخيستل کيږي او يو دريمګړي اعتباري سړي ته په امانت کې اېښودل کيږي. دغه دريمګړي اعتباري سړی د جرګې يا مرکې له خوا ټاکل کيږي. برمته معمولاً نقدې پيسې وي. دغه برمته د شخړې ارزښت ته په کتور سره تعين کيږي، برمته د دې لپاره اخيستل کيږي، کله چې د دعوې يوه يا دواړه غاړې د جرګې يا مرکې پريکړې ونه مني. برمته له لاسه کوي.
مرکچيان لومړي د دواړو خواوې ادعاوې اوري. هر خوا هڅه کوي چې مقابل لوري پړ کړي، له دې ورسته مرکچيان په خپلو کې په ګډه سره د هرې خوا ځوابونه څيړي او خپلو پريکړو ته لارې چارې هواروي، له سلا او مشورې ورسته دوی هڅه کوي چې حق او نا حق سره بيل کړي. مرکچيان په يوه پريکړه باندې سلا کيږي ،چې د شخړې دواړو خواوو ته د منلو وړ وګرځي او رامنځته شوي ستونزه حل کړي. کله چې د جرګو له لارې د قومي نرخ له خوا يوه پريکړه وشي، د شخړې يو اړخ له شويو پريکړې سرغړو کوي او دعوه بيرته له سره پيلوي.
مرکچيان د شخړې د دواړو خواو يا د دعوا ګيروډلو له خوا يوې مرکې ته رابلل کيږي. مرکچيان په پيل کې دواړه لوري ته په جلا جلا توګه غوږ نيسي. مرکچيان هڅه کوي چې مرکه د خپل لوري په ګټه فيصله کړي. په مرکه کې حقوقي وکيل يواځې په هغه صورت کې منل کيږي، چې کله د دعوې يو لوری په مرکه کې نه وي ناست او يا د دعوې يو لوري د خپل ځواکمن سيال په وړاندې سم منطقي ځواب نشي ويلای. **د مرکچيانو د خوراک او څښاک مصارف د لانجې د دواړو خواوو له لوری په ګډه سره ورکول کيږي. د قومي جرګو مصارف د سيمې خلکو يا د ټولو کليوال ولس لخوا پريکيږي.**
جرګې يا مرکې دوه ډولونه لري: لومړی. محکمې ته ورته جرګه، دويم: جرګه د سوله ييزوخبرواترو او د جوړجاړي لپاره د يو پلټفورم په څير ډايريږي .

## ۱.محکمې ته ورته جرګې او مرکې

د پښتنو او پښتونولي محکمې ته ورته جرګې، دغه ډول جرګې او د جرګې ډايريدل د اروپايي محاکمو يا د نړی د نورو هيوادو محاکمو ته ورته حقوقي مرجعې په شان عمل کوي. محکمې ته ورته جرګې دنده ده، تر څو د دعواګيرو يا مدعيانو په قضيه کې رښتيا ومونډل شي. په دې تمه، چې د دعواګيرې يولوری ګناه يا ګرمتوب په کې ثابته شي. د دعوه په بهير کې د ګناهګار يا بې ګناه په ثابتولو کې په قران کريم قسم ورکول کيږي. د پښتنې په تفکر کې په يوه دعوه کې قران کريم باندې قسم ورکول يو مشروع او منل شوي دود دی، ځکه د پښتنې تولنې بنسټ په


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په څير و لولئ

انساني وجدان او انساني ضمير باندي اېښودل شوي دی، له همدې امله پښتنه ټولنه د نړۍ یوه انساني باوجدانه ټولنه پېژندل شوي ده، پښتنه ټولنه کې خلک ډېر سخت د الله سبحان وتعاله او قران کریم څخه ویره لري.
محکمې ته ورته جرګې فورم د پښتنو د ځمکې، باغ ،اوبو، شخصي ملکیت، اجاره ، کرایه په قضیو کې دایرېږي د دغې ډول جرګو دایرېدل شرط دا دی، چې د جرګې د دایرېدو څخه مخکې چا د پښتونولۍ د اصولو سره سم بدل نه وي اخیستي او مدعیان یا د دعوا دواړه غاړې د رامنځته شوي شخړې یا لانجې حل د جرګې له لارې غواړي.
کله چې په پښتنه ټولنه کې د یوې کړنې له لارې یو منلي شوي ټولنیز نورم مات کړل شي، پښتانه هغې کړنې ته د یو تیرې په څیر ګوري، تیرې کوونکې ته خامخا سزا ورکړل کیږي .
پښتنه ټولنه کې هغه مهال یو کړکیچ رامنځ ته کیږي، کله چې یو څوک د یو چا لخوا د خپل ژوندانه په بنسټیزو چارو کې ځانته ګواښ احساس کړي.

## ۲ . د جرګه په حقوقي کانسپټ کې د سوله ییز حل او خبرو اترو لپاره یو پلاټفورم

کله چې په پښتنه ټولنه کې یو حقوقي نورم یا منل شوي قومي نرخ د یو شدیدجرمي عمل په تر سره کولوسره لکه د یو انسان وژنه یا د قتل په سره کولوکې مات شي. جرګه د سولیزو خبرو اترو او روغې جوړې لپاره یو پلاټفورم ګرځي.د جرګې په دغه ډول کې د مرکچیانو دنده د ریښتیا موندل نه وي، بلکې جرګه د دعواګیرو یا مدعیانو ترمنځ د منځګړیتوب رول لوبوي. د جرګې موخه په لومړي قدم کې دا وي، څومره چې ژر کیږي، د شخړې د پراخیدو مخه باید ونیول شي، د شخړې په دغه مرحله کې د ګناهګار یا ګرم پښتنه نه مطرح کیږي. جرګه تر ډېره بریده هڅه کوي ،چې د بدل اخیستلو مخه ونیول شي. تیري کوونکې د قومي نرخ ماتوونکې مادي خساره ورکولو ته د قومي نرخ له لارې هڅول کیږي.
په هغه شخړو او دعوه کې، چې د ننګ،غیرت او ناموس خبره مطرح وي، دعوه ګیر یا متضرر اکثراً د جرګو دغه ډول د سوله ییز حل لار رد وي، دوی مجبورېږي ،چې د تورې د غوښتنو سره سم او یاد توري له کانسپټ څخه کار واخلي، پښتون ته بیا بله لار نوره نشته او د رامنځته شوي شخړې حل او کیفیت جګړه ایزې ازموینې ته اېښودل کیږي. د بدل اخیستلو غبرګون له ویرې مالي تاوان پرې کولو ته ډېره ترجیع ورکول کیږي. کله چې د جرګې د مرکچیانو وړاندیز د تیرې کونکې او د زیانمن شوي ډلې له خوا رد شي. جرګه او جرګوال په شا کیږي او د دعوه ګیرو خپلواکې په دغه قصیه کې بیرته منل او پېژندل کیږي.
کله چې د پښتونولۍ په اصولو کې بدل واخیستل شي. د بدل اخیستلو څخه ورسته جرګه بیا د دښمنو ډلو ترمنځ منځګړیتوب هڅې کوي، تر څو د نورو وینو تویولو مخه باید ونیول شي، ځکه د دعوې د بل لوري غبرګونیزه بدل خامخا تر سره کیدونکې دی. جرګه هڅه کوي مخکې له دې چې د عواګیر خپلې د ننګ غوښتنې پلې او عمل کړي، د ټولو دعوګیرو خواوو څخه د دوی د کورنیو د کټواو د ټولنې د خیر ښېګڼې لپاره د قانوني لارې لیارې د رامنځته شوي کړکیچ ته د پای ټکی اېښودلوغوښتنه کیږدي. کله چې بدل تر سره شي د تر سره شوي بدل څخه ورسته، که دعوا ګیرې ډلې دبلې جرګې د ناستې غوښتنه وکړي. جرګه بایدد تر سره شوي بدل اندازه خساره مالومه کړي .
د مدعیانو او د ښمنو غاړو ترمنځه د شخړې د پای رسیدو لپاره راغوښتل شوي جرګه کولې شي، چې د دواړو خواوو ترمنځ د ننواتې پریکړه او فیصله هم وکړي. د تر سره شوي بدل څخه ورسته ننواتې کول د تسلیمې او.سر ټیټوالې مانا نه ورکوي،بلکې د ننواتې ورکونکې ډلې یا په ننواتې کوونکې میرانه، شهامت، درونډوالې او د متضرر سړی نوم او نښان ته د پښتونولۍ ویاړ موندل کیږي، ځکه په داسې یو بیړنې حالت کې ننواتې کول د پښتونولۍ د ننګ کانسپټ اصول پر ځای کیږي. د یو ننګیالې، ریښتنې پښتون ننګیالتوب په ننواتې کولو او ښنلوکې ازمویال کیږي. په اصل کې پښتون سړی خپل پښتونتوب اوخپله انساني صیلې رحم ښیي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولئ

## د پښتنو د جرګو او مرکو د رسمي اعتبار، پایښت او پالنې له پاره یو وړاندیز

د افغانستان عدلي او قضايي سيستم کې ځينتي ډيري نيمګړتياووې شتون لري. د افغانستان قضايي سيستم کې څو ډوله قوانين کارول کيږي. نن په افغانستان کې نه اساسي قانون، نه دولتي قوانين په ټول هيواد کې حاکميت لري، نه شرعي قوانين او نه قومي نرخونه، نورمونه او رواجونه په ټول هيواد کې واکمن دي. د هر چا چې په دغو درېواړو قوانينو يعني شرعي قوانينو، دولتي قواينن او قومي نرخونو کې ګټه وي، د هغې قانون په رڼا کې د خپلې شخړې او منازعې حل غوښتنه کوي. د لانجې بله غاړه بيا د بل قانون په رڼا کې د خپلې لانجې د حل غوښتنه کوي. دغه حالت هم د افغانستان قضايي سيستم له ډيرو نورو ستونزو سره مخامخ کړي دی. له همدې امله ډيری افغانان پر خپل عدلي او قضايي سيستم باندې باور نه لري او د خپلو دعواوو د حلو لپاره قومي مرکې او جرګو ته ورځي.

**په افغانستان کې د څو لسيزو جنګ جګړو له امله د پښتو او پښتونولي، پښتني قومي ټولنلي دودونه، نرخونه او ارزښتونه په لمنځه تللو دي، له همدې امله اوس څوک د مرکو او جرګو پريکړې نه مني، او يا لږ ارزښت يا هيڅ درنښت ورته نه لري، په دعوې کې يو اړخ خان مظلوم او بل اړخ ظالم ښودل کيږي، يو کبرجن بلل کيږي، بل اړخ نا حقه بلل کيږي. دا پته نه لګيږي، چې په ريښتيا څوک سره حقه دی.**

د پښتنو په سيموکې له پېريو، پيريو راهيسې پښتانه خپلې حقوقي او جزايي دعوې او لانجې په قومي نرخونو او رواجونو باندې حلو فصلوي. نرخيان او مرکچيان د دعوې له دوواړو خواو څخه واک اخلي، دوی د دعوې يا پيښې په سيمه کې د ځايي خلکو څخه تر پوښتنو او پلټنو وروسته خپله پريکړې کوي، که څه هم جرګه وال د جرګې د فيصلې او پريکړې مخکې د دعوې ګيرو يا مدعيانو څخه ګرو يا برمته اخلي، د دعوې دواړه اړخونه د برمتې د لمنځه تللو له ويرې د جرګې فيصله مني. کله نا کله د يو اړخ له خوا پريکړه ماتيږي او حل شوې زړه مسله بېرته له سره پيلوي، دا عمل له يوې خوا د پښتني نرخونواو رواجونو باورنونه زيانمنوي او بل لوري ته د خلکو ترمنځ د دښمنيو او بديو يو لامل کيداي شي.

په دې کې هيڅ شک نشته چې د افغانستان قضايي سيستم په خپل جوړښت کې د ډيرو ستونزو له کبله فلج دی، که په افغانستان کې يو نوي مختلط فعال واحد عدلي قضايي سيستم رامنځته کيږي، بايد د نړيوالو منل شوي مدني قوانينو، اسلامي شريعي قوانينو او هم د عرفي سيمه ييزه قوانينو پربنسټ جوړ شي.

کله چې د افغانستان په دولتي رسمي سيستم کې او يا د مرکو جرګو لپاره ځانګړې رسمي قانوني اداري رامنځته شي او په دغه ادارو کې د سيمه ييزو مرکچيانو د جرګو مرکو بهير او پريکړې رسماً ثبت او راجستر شي د هغو خلکو مخه به ونيول شي، چې دوی د مرکو او جرګو پريکړې او فيصلې له يوې مودې ورسته ويره وي يا نه مني او خپله دعوه بيرته له سره پيلوي.

د پښتنو په تاريخ کې د لومړی ځل لپاره د پښتو او پښتونولي د درونډ کوډکس بنسټ اينودلو لپاره ، د جرګواو مرکو او د خبرو اترو سوليز کولتور په اړه ژور فلسفي، حقوقي او سياسي فکر په لويه پکتيا کې رامنځته شوي دی. له همدې امله جرګې او مرکې په لويه پکتيا کې په عام ولس کې يو ځانګړی درونډ ځای لري. مرکچيان د همدې پښتني درونډ دود او ستور ته په کتو سره خپلې درنې فيصلې په عدل او نصاف کې کوي.

لويه پکتيا د جرګو او مرکو يوه ژوندئ ټولنه ده. لويه پکتيا کې نن هم د جرګو او مرکو دود ژوندئ ساتل شوي دی. د لويې پکتيا په اداري عدلي او قضايي سيستم کې د يوې ځانګړې رسمي اداره رامنځ ته کيدل او د حقوقو په پوهنځيو کې يو څيرنيز ډيپارتمنټ د قومي جرګو او مرکو لپاره رامنځته کيدلوسره به د مرکچيانو مرکې او جرګې به په دولتي رسمي اداري چوکاټ کې ثبت او راجستر شي. سيمه ييزه مرکې او جرګې به په ولس کې يو ډول رسمي مرکزيت، اجراييوي، اعتبار او حقوقي ضمانت ومومي.

مرکې او جرګه د پښتنو يو لرغوني درونډ دود دی، ټول پښتانه نه يواځې مرکې او جرګې په خپل ورځني ژوند او د ژوندانه په چارو کې پيژني، بلکې پښتانه مرکو او جرګو ته په خپله ټولنه کې ځانګړي ډير ارزښت ورکوي.



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

پکتیا د جرګو او مرکو وطن بلل کیږي دا ځکه چي جرګه یا  مرکه په پکتیا کي یو ځانګړی ځای لري او د یو خاص او دروند پښتني دستور په سترګه ورته کتل کیږي، قومي مشران او مرکچیان د همدې  ارزښتمندو دودونو او مهمو حقوقي نرخونو په مرسته مهمي او درني پریکړې خپل ولس ته اوروي.

پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ